مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

واحد فقیري
۲۰۱۹/۰۱/۱۱

# ملي هنداري ته یوه سیاسي او اجتماعي کتنه

## د عبرت سیاسي درسونه (۱)

## فتح خان بړېڅ: اتفاق او خویشخوري

### د داستان اناټومي

د فتح خان بړېڅ او رابیا داستان د کندهار په سیمه کي پېښېږي. د فتخ پلار اسلم خان د بست پاچا دئ. فتح خان ۶۰ یاران لري، او ګرده پر یوه هاړ او همسنه دي. یو ځای سبق وایي. یو ځای ګرځي، او باسواده دي. د هلمند د مست سیند ځوان فتح خان د ښکار او مېلو شوقي دئ. فتح خان یو بل همسنه ورور هم لري چي نوم ئې کرم خان دئ، او پدې نکل کي د «کرمي» په نامه یادېږي.
که څه هم کرم خان شجاع او وفاداره شخص دئ، خو په عین زمان کي فاسد، قاتل، درواغجن، او فتنه ګر کرکټر دئ. یوه ورځ، کرم خان خپل مشر ورور فتح خان دېته هڅوي چي د کلي او ښار نجونو ته ازار ور کړي. د هغوی د اوبو منګي ور ماته کړي، او د اوبو ژي ئې په غښو ور سوري کړي. د ښار نجوني اسلم خان پاچا ته شکایت کوي. د فتح خان پلار خپل زوی ور غواړي، نصیحت ورته کوي. څرنګه چي فتح خان یو ناز دانه او حساس شهزاده دئ، د پلار سلوک بد پري لګېږي، او د پلار او زوی تر مینځ روابط خرابېږي .
کرم خان د پلار او زوی تر مینځ همدې فامیلي خوابدی ته لمن وهي، او فتح خان دېته تشویقوي چي وطن پرې ږدي. فتح خان د خپلو شپېتو ملګرو، کوزدو، او معشوقو سره فیصله کوي چي د خپل پلار پاچاهي خوشي کړي، او هندوستان ته ولاړ سي. هلته د خپل ځان لپاره یوه بل کوچیني مستقل سلطنت جوړ کړي. د فتح خان مور خپل ټول کوښښ کوي چي خپل زوی راوګرځوي. د قوم مشران او رابیا باندي جرګه کوي، خو هیڅ ګټه نه کوي.
کله چي فتح خان او ۶۰ یاران ئې د بست له ښاره مخ د هند په لور خوځېږي، د دې افغان ماجراجو ځوانانو بې چون چرا کاریزماتیک مشر فتح خان دئ. فتح خان نه یوازي د پاچا زوی دئ، بلکي د سیاسي مشرتوب څرګنده کاریزما هم لري. په بل عبارت، هغه یو منل سوی مشر دئ. کله چي د بست له ښاره د وتلو فیصله کوي، د خپلو ملګرو لخوا له هیڅ جدي مخالفت سره نه مخامخ کېږي، بلکي سمدستي ئې اطاعت کېږي، او حتی د ملګرو ۶۰ پېښتني کوزدې او معشوقي ئې هم ملګرتیا کوي. د فتح خان په لښکر او کاروان کي د هغه همزولی او اخښی پر دل خان هم شامل دئ. پر دل خان د رابیا ورور دئ، او د اسلم خان د وزیر زوی دئ. پر دل خان نهایت شجاع او پهلوان شخص دئ. د پر دل خان په مرګ سره د فتح خان یو قوي مټ ماتېږي، او د پېښتنو یو ستر نظامي سردار د مرګ کوله کېږي .
فتح خان او یاران ئې په هند کي یو کوچیني ریاست جوړوي، خو وروسته د مغل پاچا شمس الدین او فتح خان تر مینځ د مالیاتو پر سر شدید اختلافات پیښېږي، او د دواړو تر مینځ خونړي جنګونه کېږي. پدې افسانوي معرکه کي فتح خان او ټول یاران ئې وژل کېږي، او بالاخره رابیا د همدې ریاست چاري په لاس کي اخلي .

### سیاسي درسونه:

### اول درس:

د فتح خان د سیاسي مشرتوب یو بارز خصوصیت دا دئ چي هغه عموما د خپلو یارانو سره سلا مشوري کوي. جمعي فیصله کوي، او مدام یاران اتفاق او اتحاد ته وربولي. د خپل اوږده سفر او لنډ سیاسي حاکمیت په دوران کي د خپلي ښځي په شمول د خپلو ټولو ملګرو سره په مصلحت کارونه کوي. د فتح خان د حکومت سلوک آزاد او دیموکراتیک دئ، ځکه هغه پوهېږي چي همدا روش د یارانو له روح او روان سره اړخ لګوي. فتح خان د یو سیاسي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

مشر په حیث د جرګو شوقي دئ. مصالحه او روغه جوړه خوښوي، خو په عین وخت کې قاطع، بهادر، او ماجراجو هم دئ .
کله چې د فتح خان لښکر د افغانستان له خاوري څخه وزي، او د هند ساحې ته ننوزي، فتح خان ګرده ورځ سواره مزل کوي، او د شپې د هندوانو یوه کلي ته رسیږي. فتح خان خپلو یارانو ته امر کوي چې خپل آسان او بوده ګان د کلیوالو په پټیو او کښتونو کي خوشي کړي، څو وڅرېږي او ځانونه ماړه کړي. خو «د دې کلي خلګ ټول په اتفاق وه.» هغوی په یوه سلا د فتح خان د لښکر آسان او بوده ګان له خپلو پټیو څخه راجمع کوي، او بېرته ئې د فتح خان کمپ ته ور ولي. هندي کلیوال فتح خان ته شکایت کوي چې باید خپل حیوانات وساتي، او د هغوي کښت په خراب نه کړي .
فتح خان خپلو ملګرو ته وایي،«د آسانو له ایله کېدو څخه مي مقصد دا و چې ما د دې خلګو اتفاق او بې اتفاقي معلومولې.» په بل عبارت، زما هدف د هغوی د پټیو خرابول نه ول، «موږ باید داسي ځای ته ولاړ سو چې مخلوق یې بې اتفاقه وي، او د دوی له بې اتفاقۍ څخه موږ پوره نتیجه او ګټه واخلو.» خو بر عکس «موږ باید تل په اتفاق یو، ټوله یاران خپل ځانونه یو تن وبولو.» ځکه بې اتفاقي او نفاق ډېر بد عواقب لري .
د فتح خان پدې ژورو سیاسي خبرو کي کلیدي کلمات د کلیوالو د «اتفاق» او «بې اتفاقي» اندازه لګول دي. هغه پوهېږي چې په یوه خارجي ملک کي د یوه مهاجم طاقت پاېښت پدې پوري اړه لري چې ایا بومي خلګ خپلمنځي اتحاد او اتفاق لري او کنه. د یوه خارجي او اشغالګر نظامي قدرت لپاره په یوه ځای کي پاته کېدل هله ممکنېږي چې محلي خلګ متحد نه وي، او د وحدت روحیه ئې کمزوري وي. خپلمینځني اختلافات پکي پربمانه وي. او د ګډ کار او همکاری روحیه پکي کمزوروي. دا اصل د ټولو استعماري طاقتونو د حاکمیت او تسلط یوه پخه او منل سوي قاعده ده .
په هر صورت، فتح خان فیصله کوي چې دا کلی د هغوی د اشغال لپاره چمتو او مناسب نه دئ. نو لهذا، فتح خان سهار وختي د کوچ امر کوي، او هله هله هله مزل پر مزل د شپې د مغلو او ګواریانو یو بل کلي ته رسیږي. فتح خان یو کرت بیا خپلو یارانو ته وایي چې خپل آسان او بوده ګان د کلیوالو په کښتونو او پټیو کي د څړ لپاره ایله کړي. خو دا پلا بیا کلیوال په ګډه د فتح خان د فوج ټول حیوانات له خپلو کښتونو څخه راغونډوي، او د فتخ خان کمپ ته ئي ور ولي. فتح خان په حیرت وایي، «دا کلی هم په اتفاق وو.»
په دریېمه ورځ، فتح خان بیا د هند په ستره خاوره کي اوږد د آس مزل کوي، او ټوله ورځ وهي. بالاخره د مغلو او ګواریانو یوه بل کلي ته رسیږي. فتح خان د پخوا په څېر د تمېدو امر کوي، او دلته بیا خپلو یارانو ته وایي چې خپل آسان او حیوانات د خلګو په کښتونو خوشي کړي. د دې کلي خلګ «بې اتفاقه او بلرغو عالم دئ.» دلته یوه مطلقه ځانځاني او انارشي حاکمه ده. هیڅ ډلو جمعي فکر او اتحاد نسته. هر کلیوال صرف دونه کوي چې د فتح خان د پوځ آسان فقط له خپله کښته راباسي، او د خپل ګاونډي او یا تربور پر پټي یې ور برابروي. ها بل یې د بل چا پر کښت ور سموي. مطلب دا چې هر سړی د ځان په غم کي دئ. ټوله شپه همدا لوبه روانه وی. پدې ترڅ کي، د فتح خان د لښکر آسان او بوده ګان ښه ماړه سي .
کله چې فتح خان د دې کلي بې اتفاقي او ځانځاني ګوري، هغه کرمي او پر دل خان ته وایي،«زموږ ځای همدا دئ. دلې به اوسو. ټولو یارانو یي ورسره خوښه کړه چې هوکې دا کلی بې اتفاقه دئ. اتفاق نه لري، نو زموږ همدغه ځای وړ دئ.»
فتح خان سمدستي امر کوي چې د دې ښارګوټي مرکزي کلا باید فتح سي. کله چې خلګ افغان اشغالګران ویني، په عجله د کلا دروازې تړي، او ځانونه هلته خوندي کوي. خو وروسته د کرمي، پر دل خان، او فتح خان د کوښښونو او هیبت له برکته د کلا خلګ دېته مجبوره کېږي چې د کلا دروازه ورته خلاصه کړي .
د کلا تر نیولو راوروسته، فتح خان د خپلو یارانو یوه عمومي جرګه راغونډوي، او د هغوی سره «سلا» کوي. «ټولو یارانو ئي وویل چې خوښه ستا ده، هر ډول چې ئې کوې زموږ در سره خوښه ده.» فتح خان سمدستي امر کوي چې د کلا ګرده اوسېدونکی ګواریان باید سهار له کلا څخه ووزي،« که نه وي بیا مو ګیله د ځانه ده.»

## دوهم سیاسي درس: په حکومت کي خویشخوري او اداري فساد د حکومت آداني لړزانه وي:

فتح خان سوکه سوکه پر سیمي باندي خپل حاکمیت تثبتوي. البته، طبعا ځیني ګواریان د مغل، پاچا شمس الدین، ته عرض کوي، او له هغه څخه د دې نویو اشغالګرانو د ایستلو لپاره کومک غواړي. خو د مغل پاچا د فتح خان سره د جنګ اراده نه لري، او هندوانو ته وایي،«پرې ږدئ مسافر دي.» د مغل پاچا همدا سیاسي اغماض او لټي د فتح خان د سلطې د خورېدو لپاره لاره هواروي، او فتح خان او ملګري ئي لا زوړور کېږي. ماکیاولي پخپل تلپاته کتاب «شهزاده» کي وایي یو حاکم باید هیځکله په خپله خاوره کي خارجي عسکرو ته د اوسېدو اجازه ور نه کړي، ځکه بالاخره به همدا خارجي عسکر د زمامدار سر وخوري. خو شمس الدین پاچا پر دې جدي خطر باندي سترګي پټوي، او له اغماضه کار اخلي .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

البته، واضح خبره ده چي هيڅ حکومت پرته له پيسو ښخه نه چلېږي. هر حکومت مالياتو ته اړتيا لري، او د مالياتو منبع خلک دي. جالبه خبره دا ده چي پدې نکل کي ماليات «غم» يادېږي! فتح خان او ملګري ئي د خلکو ښخه د مالياتو په راټولو پيل کوي. خو څرنګه چي اکثره جنګونه اقتصادي او سياسي ريښي لري، د فتح خان او شمس الدين جنګ هم اقتصادي شکل او محتوا اخلي .
په يوې حادثي کي، کرم خان د شمس الدين د مالياتو يا «غم» سپاهيان وژني، خو شمس الدين جنګ نه کوي، حال پلن اچوي، او فتح خان ته خط ليکي،«چي دغه شاوخوا مځکي ئي ستا او محصول او غم هم در ايله دئ، خو دغسي باره مه کوه.»
اما د مالياتو په راټولو کي کرم خان زور زياتی او ظلم کوي، څو ځله د شمس الدين سپاهيان وژني. فتح خان په قضيه باندي خبرېږي، کرمي ته نصيحت کوي«چي بله پلا داسي مه کوه.»
په همدې ترڅ کي، يوه ورځ د باچا خزانه په دې سيمه کي تېرېږي. کرم خان په خبرېږي، او د فتح خان «په پټه» پر کاروان باندي حمله کوي. د باچا د کاروان زيات کسان وژني، او له ځينو ښخه ژبي پرې کوي. د باچا خزانه د ځان لپاره ګرځوي. ژب پرې کړي سپاهيان راځي او شمس الدين ته عرض کوي. شمس الدين سمدستي فوج جوړوي، او د فتح خان کلا محاصره کوي. او دواړو رياستونو تر مينځ جنګ ښخېږي .
که څه هم فتح خان د کرمی په کرکټر باندي پوره واقف دئ، خو هيڅکله د کرمي د راکنټرولو لپاره جدي اقدامات نه کوي. فتح خان پوهېږي چي «کرمی خوشي يو ورګدي سړی دئ»، خو تل د وروړلي رشته باندي غلبه کوي، ځکه «ډېر پر ګران وو.» او د کرمي پر ظلم او ناروا باندي سترګي پټوي .
فتح خان يو باوجدانه او صادق سړی وو، «هيڅکله په ډېر شر نه وو خوشحاله.» خو هيڅکله يي کرمی د دوامداره تخلفونو له وجهي مجازات نه کړ، او نه يي هم په حکومتي چارو کي د هغه مداخله ختمه کړه. په حکومتوالي کي فساد او خويشخوري هله خورېږي چي يو مشر خپل دوستان او ياران پرېږدي چي فساد، ظلم او ناروا وکړي. فتح خان ته پکار وه چي د کرمي له اول تخلف راوروسته يي د هغه مراقبت کړی وای، او نور ئي په حکومتي چارو کي د هغه لاس ور لنډ کړی وای. خو فتح خان پدې برخه کي يو ناکامه مشر وو. د فتح خان په ليډرشيپ کي همدا يوه مهمه کمزوري ده، او بالاخره همدې کمزورۍ ئي سر وخوړ .

## درېيم سياسي درس: ښه حکومتوالي:

کله چي د فتح خان حکومت پدې سيمه کي تثبيتېږي، د خلکو سره ښه او نرم سلوک کوي. د هغوی عرض اوري، او مشکلات ئي ور حلوي. مدام هڅه کوي چي خلکو ته نژدې واوسي. کله چي د محل خلک تری غواړي د دوو کليو تر مينځ روغه جوړه وکړي، فتح خان سمدستي اقدام کوي. فتح خان متجاوز کلي ته ورځي، او هغوی ته وايي،«زموږ به يو ناز اخلئ.» هغوی ئي ورسره قبولوي، او د ښه ګاونډيتوب وعده ورکوي. پدې مناسبت ښه مېلمستيا کېږي، او شخړه فيصله کېږي. د فتح خان دا اقدام دا ښيي چي هغه د خلکو مشر وو، د خلکو ورځني مشکلاتو ته ئي جدي پام کاوه، تل ئي هڅه کوله چي د عمل ابتکار د ځان سره ولري .

## څلرم سياسي درس: د قواوو انډول:

لکه څنګه چي مو مخکي وويل فتح خان د خپلو شپېتو يارانو او جمع معشوقو سره د بست ښار د هند په نيت پرې ښود. د فتح خان ټول ياران جنګيالي، تورزن، او په نظامي امورو کي وارد خلک ول. په اولو وختونو کي يي زياتي سوبي په نصيب سوې، خو دا کم شمېر په يوه پردي ملک کي په هيڅ وجه کافي نه وو .
بلخوا، د فتح خان دا فيصله چي د يو بسته فوج په جنګ ور سي، د يو عاقل او هوښيار نظامي مشر کار نه وو. يو نظامي مشر بايد تل د قواوو انډول مد نظر و نيسي.  ناپيليون وايي،«په جنګ کي روحيه د فزيکي قوې درې چنده طاقت لري.» مګر د فتح خان او شمس الدين په جنګ کي د قواوو انډول ښېخي نابرابره وو. د شمس الدين فوج په زرهاوو کسان ول، او د فتح خان لښکر فقط شپېته کسان ول. دا ډول نابرابره جنګ فقط يوه عمدي خود کشي ده، او د ځان تباه کول دي. د فتح خان بله نظامي اشتباه دا وه چي د بسته لښکر سره يي جبهه يي جنګ ته ملا وتړله .
بله موضوع دا ده چي فتح خان او لښکر ئي د خپل وطن ښخه ليري جنګېږي. هيڅ ډول کومک نه ورسېږي، او هيڅ تازه دمه نظامي قوې ته لاسرسی نه لري. همدا وجه ده چي فتح خان په آخر کي پخپلي اشتباه پوهېږي، او وايي:
که پاخه دي لويه خدايه د کندهار انار پاخه دي اسلم خان بابا دې خوري پر ما ترخه دي.

## د عبرت اجتماعي درسونه:

د فتح خان او رابيا نکل د جامعي د حاکمي طبقي نماينده ګي کوي. د فتح خان ټول ياران د وزيرانو، د عالي رتبه مامورينو، او د لوړ کلاس زامن دي. دغه راز، د هغوی کوزدې او معشوقي هم په همدې کلاس پوري اړه لري. د دې داستان يو بارز اړخ دا دئ چي ټول ياران باسواده دي. ټولو سبق لوستی دئ، په اصطلاح د ټولني ټاپ خلک دي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ

## اول اجتماعي درس: د فتح خان او رابيا په نکل کي د ښځني مېرمنو نقش:

د فتح خان او رابيا د نکل يو مهم اړخ دا دئ چي د ښځو او نارينه تر مينځ روابط ډېر ازاد او لبيرال دئ. البته د ملي هنداري په ګردو داستانونو کي ښځه يو مطيع، فرمانبرداره، او عاجزه مخلوقه نه ده، بلکي ښځه يوه فعاله او د خيال او فکر خاونده ده. اکثره اتلاني په خپله خوښه واده کوي. ځيني په يوازي سر سفرونه کوي. بعضي په نظامي عملياتو کي فعاله ونډه اخلي. د فتح خان او رابيا په داستان کي نجوني او هلکان ازادانه خبري سره کوي. او په ټولنه کي د جندر تر مينځ روابط لږ و ډېر مساويانه او برابر دي .
کله چي فتح خان د سفر موزې پېنو کوي، د فتح خان او يارانو کوزدې او معشوقې د هلمند د تپانده سيند پر غاړه په يوه باغ کي مېله کوي. دلته همدا ښځني پيغلي اتونونه کوي، او سندري وايي. فتح خان خپل ورور کرم خان باغ ته وراستوي چي د هغوی احوال ور وړي. خو په په عين زمان کي په زغرده ورته وايي،«ګوره پام کوه چي دي نجونو ته ږغ و نه کې، په نشه کي يې ور و نه خېژې، څو خپل سات تېر کي. هر وخت که کورو ته تلې، پر ما ږغ وکه «.
کله چي فتح خان، رابيا، او نور ملګري ئې له بست څخه د هند پر لور روانېږي، د نجونو پلرونه اسلم خان پاچا ته عرض کوي چي فتح خان زموږ نجوني د ځان سره هندوستان ته بوتلي. اسلم خان ئې په جواب کي وايي،«هغه ټوله پيغلاني وې، خپل مېړونه يې پيدا کړل، او تاسي هر يو د خپلي لور يا خور پوره ولور زما څخه واخلئ. زياته نو څه غواړې؟»
د اسلم خان په جواب کي څو کليدي کلمات دا دي: هغوی ټوله «پيغلاني» وې. د ځان لپاره ئې «مېړونه» پيدا کړل. زه به مو پوره «ولور» درکړم، او «زياته نو څه غواړئ؟» دلته خلګ د پېغور مسله نه مطرح کوي. د شرم او بدنامی خبره نسته. بلکي اسلم خان وايي چي د ځان لپاره ئې سيال مېړونه پيدا کړل. البته، که چيري نن ورځ په افغان ټولنه کي داسي حادثه پېښه سي، دا به يو ستره هنګامه وي. د غيرت او ننګ په نامه به ډېر خلګ ووژل سي. خو د اسلم خان په زمانه کي د هلمند د مست سيند پر غاړه هله دا مسله دونه جدي نه وه. او ښځني پېغلو داسي ازادي او اجتماعي حيثيت لاره چي نن ورځ يې نه لري .
بلخوا، پدې نکل کي ښځې نه يوازي دا چي د خپل خاوند د انتخاب حق لري، بلکي په جنګونو کي د خپلو مېړونو سره اوږه په اوږه ولاړي وي. کله چي د شمس الدين پاچا او فتح خان تر مينځ جنګ ښخ سي، رابيا د ځوانانو په تشويق او ترغيب کي فعاله ونډه اخلي، او فتح خان دېته هڅوي چي ژر تر ژره د جنګ ميدان ته ورسي. رابيا دغه راز د شهيدانو په ښخولو کي فعال نقش لوبوي. د رابيا بي بي شجاعت پر شمس الدين پاچا باندي دونه تاثير کوي چي کله غالب سي، د فتح خان رياست رابيا ته ور خوشي کوي، او رابيا يي اداره او سمبالوي.
د فتح خان او رابيا په نکل کي، رابيا د ښځني نشنليزم استازيتوب کوي. په نکل کي څو ځايه ښځني ښځې د افغان نشنليزم ناري وهي.
د ملي هنداري همدا نکلونه د انګريزي استعمار مخکي پېښ سوي دي، همدا وجه ده چي پدې داستانونو کي اصلا د انګريز نوم نه اخيستل کېږي. هندوستان او اصفهان يادېږي، خو د انګريز نوم نسته. ښايي د ښځني جامعي د لبيرال بودن يو مهم عامل همدا وي، ځکه هله افغان ټولنه د يوه غير مسلمان بهرني اشغالګر سره نوه مواجه سوې، او د جهاد هنګامه لا نه وه ګرمه سوې. پدې برخه کي به د نورو نکلونو د شرح په وخت کي مفصل بحثونه وسي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولـئ